بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۰ / شوال المکرم / ۱۴۴۶ هـ ق موافق ۲۹ /حمل ۱۴۰۴هـ ش**

# په فردي او ټولنيز ژوند کې د عدل او انصاف اهميت او ضرورت

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله، الحمد لله عدد خلقه، ورِضا نفسه، وزِنةَ عرشه، ومِداد كلماته، حمدًا يليقُ بجلاله وعظمته وكبريائه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهدُ أن محمدًا عبدُه ورسولُه، صلَّى الله عليه وعلى آله وأصحابِه، والتابعين لهم بإحسانٍ إلى يوم الدين، وسلَّم تسليمًا كثيراً، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ إِنْ يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيراً فَاللَّهُ أَوْلَى بِهِمَا فَلا تَتَّبِعُوا الْهَوَى أَنْ تَعْدِلُوا وَإِنْ تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيراً).[ النساء:١٣٥]

**ګرانو او درنو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

لومړی دې الله تعالی ماته د نيکۍ توفيق راکړي او بيا دې تاسو ته او الله تعالی دې مونږ ته ددې توفيق راکړي چې په قيامت کې د خپل رب سره په سپين مخ ملاقات وکړو، په داسې حال کې چې خيټې مو د حرامو پاکې وي.

**درنو حاضرينو!**

الله جل جلاله رسولان ، پيغمبران او اسلامي شريعت ددې مقصد لپاره راليږلي دي چې صالح فرد وروزي، صالحه کورنۍ وروزي او صالحه ټولنه رامنځ ته کړي.

د اسلام سپيځلی دين ددې لپاره راغلی دی چې د خلکو مصالح د خلکو په ژوند کې پياده کړي او ټول مفاسد او ناوړه اخلاق ددوی د ژوند څخه لرې کړي؛ ترڅو فرد او انساني ټولنه په دنيا او آخرت کې نيکبخته شي او د کاميابۍ منزل ته ورسيږي.

**درنو مسلمانانو!**

زمونږ د نن ورځ د تقرير او بيان موضوع په فردي او ټولنيز ژوند کې د عدل او انصاف اهميت او ضرورت ده.

عدل او انصاف د ټولو ښيګڼو او فضيلتونو سرچينه ده، عدل د افراط او تفريط په منځ کې منځنۍ لاره ده.

د انسان په غوره صفاتو کې هغه د عدل او انصاف صفت دی، هر دين يو خصوصيت لري او د اسلام خصوصيت عدل او انصاف دی او د ظلم څخه لرې والی دی.

عدل او انصاف د اسلامي شريعت جامه او زينت دی او د فرد او ټولنې د اصلاح راز دی ، عدل او انصاف د پيغمبرانو، اولياوو اخلاق دي، په عدل او انصاف سره زړه سکون مومي او انساني ضمير ور باندې خوشحاليږي.

د فرد او ټولنيز ژوند سعادت او نيکبختي په عدل او انصاف پورې تړلی ده، څوک چې عادل او منصف وي ، هغه شخص الله تعالی ته هم محبوب وي او د الله تعالی بندګانو ته هم محبوب وي او عادل شخص د خلکو په زړونو کې خاص ځای لري.

په عدل او انصاف سره د خلکو زړونه مطمئن وي، سرونه ، مالونه او عزتونه يې مصئون وي او په ټولنيز ژوند باندې د خوښۍ او سعادت څادر خپور وي.

هرکله چې اسلامي امت عدل او انصاف له لاسه ورکړ، نو په ټولنيز ژوند کې انانيت او خودخواهي خپريږي، د خلکو مالونه په ظلم سره خوړل کيږي او انساني ټولنه هر ډول ناکاره کارونه تهديدوي، چې بيا په ټولنه کې د خلکو همتونه کمزوري کيږي، د کوښښ او ابتکار جذبه په زړونو کې کمزوري کيږي او د خلکو په ارادو کې د معمارۍ، آبادۍ او پرمختګ فکرونه مړه کيږي.

عدل او انصاف ټولنې له پراکندګۍ او انحلال څخه ساتي، عدل او انصاف د ظلم او بې انصافۍ مخه ډب کوي .

هرکله چې په اسلامي ټولنه کې يو انسان د خپل ځان په کوتاهۍ او تقصير باندې شهادت او ګواهي ورکړي ؛ نو په داسې ټولنه کې بيا ظلم، جبر ، غدر او بد ګماني ځای نلري او داسې ټولنه بيا د نبوت د زمانې رنګ خپلوي.

عدل او انصـــاف د حاکم او رعيت ترمنځ د باور پول جوړوي، چې په نتيجه کې حاکم او راعي به د خپل رعيت څخه مطمئن وي او رعيت به له راعي او حاکم څخه خوښ او راضي وي .

کله چې په اســـلامي ټولنه کې عدل او انصـــاف عملي او پياده شي، هرڅوک به خپلو حقوقو ته لاس رســـی لري او د چا حق به نه ضائع کيږي او ټول خلک به د قانون په وړاندې يو شان وي او قانون به هر چا باندې يو شان مساوي پلي کيږي او خاص او عام به د قانون په وړاندې يو شان حيثيت ولري، ظالم ته به سزا ورکول کيږي او مظلوم ته به خپل حق سپارل کيږي.

په کومه ټولنه کې چې عدل او انصاف حاکم وي په هغه ټولنه کې به د شريرو خلکو نفسي خواهشات، ميلونه او رغبتونه مړه وي.

عدل او انصاف د کورونو او ښارونو ښيرازي ده، په عدل او انصاف سره آسمانونه او ځمکې ولاړې دي.

مظلومان او ضعيفان عدل او انصاف ته پناه ور وړي او په عدل او انصاف پورې د مظلوم حق تړلی دی، په عدل او انصاف سره د خلک عزت او قوت پيدا کوي . پـه عـدل او انصـــاف سره وحـدت او يوالی رامنځ تـه کيږي او روابط دوام پيدا کوي او نور هم مضبوطيږي.

دعدل او انصاف له برکته امتونه قوت مومي، او د عدل او انصاف څخه ډک نظام تر قيامت پورې بقاء لري او د ظلم نظام د لحظاتو په اندازه بقاء لري.

کله چې له ټولنې څخه عدل او انصاف پورته شي ، په هغه ټولنه کې بې نظمي ، ظلم ، د نورو په حقوقو تجاوز کول ځای نيسي- او په ملت او امت کې اضطراب رامنځ ته کيږي.

د حضرت عمر بن عبدالعزيز رضي الله عنه د خلافت په وخت کې د خراسان والي عمربن عبدالعزيز رضي الله عنه ته خط وليکلو او په هغه خط کې يې دخراسان د خلکو څخه شکايت وکړ او حل لاره يې داسې بيان کړه چې: (وإنه لا يصلحهم إلا السيف والسوط) بيشکه دوی پرته له تورې او قمچينې څخه نه اصلاح کيږي. ماته اجازه راکړه چې دوی په توره او قمچينه اصلاح کړم.

حضرت عمربن عبدالعزيزرضي الله عنه ورته په ځواب کې وليکل: (فقد بلغني كتابك تذكر فيه أن أهل خراسان قد ساءت رعيتهم، وأنه لا يصلحهم إلا السيف والسوط، فقد كذبت، بل يصلحهم العدل والحق، فابسط ذلك فيهم والسلام).

ژباړه:- په تحقیق سره ماته ستا لیک راورسیدلو چې تا په کې لیکلي ؤ چې دخراسان د خلکو کنترول خراب شوی دی او دوی پرته له تورې او قمچینې نه اصلاح کیږي، یقیناً چې تا درواغ ویلي دي. بلکې دخراسان خلک عدل او حق اصلاح کولای شي، نو دغه عدل او حق په دوی کې براخه کړه او والسلام.

بناءً نو پر مسلمان لازم دي چې په خپله وینا او فیصله کې عدل وکړي او په ټولو چارو کې له عدل او انصافه کار واخلي، ترڅو عدل خوښول د ده داسې صفتونه او اخلاقي ځانګړتیاوې شي چې له ده څخه جلا نشي او په دې ځانګړتیا کولای شي د الله مینه او رضا ترلاسه کړي او د ټولنې څخه هر ډول ظلم او بې انصافي لرې شي.

**د عدل او انصاف اهمیت او ضرورت د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې:**

که چیرې قرآن کریم او نبوي احادیث په غور سره ولټوو ، وبه وینو چې الله تعالی په بې شمیره آیتونو کې په عدل او انصاف امر کړی دی ؛ دا ځکه چې عدل اوانصاف په ټولنیز ژوندکې لوی اهمیت لري او په داسلام په مبارک دین کې هره علاقه باید په عدل او انصاف سره تنظیم شي.

عدالت او انصاف په اسلام کې یو واجبي امر دی؛ چې الله تعالی پر ټولو خلکو لازم کړی دی او په دې کې هیڅ استثناء نشته.

الله دل جلاله فرمایلي دي چې مونږ پیغمبران، کتابونه او انصاف (یا ترازو) د دې لپاره لیږلي ؤ چې د خلکو ژوند په عدل او انصاف سره قائم شي. الله تعالی فرمایلي دي:( لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ)[الحدید:۲۵]

ترجمه:- خامخا په تحقیق لیږلي وو مونږ پیغمبران خپل سره له ښکاره وو دلائلو او نازل کړی وو مونږ له هغوی سره کتاب او میزان تله (قواعد د عدل) لپاره د دې چې و دریږي خلق په انصاف باندې.

الله تعالی خپل پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته په عدل او انصاف امر کړی دی او فرمایلي یې دي:( فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنْ كِتَابٍ وَأُمِرْتُ لأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ).[الشوری:۱۵]

ترجمه:-پس دغه ( توحید) ته پس و بوله (ای محمده! دغه خلق)، او محکم ولاړ اوسه (په دې دعوت) لکه چې امر حکم کړی شوی دی تاته، او مه کوه متابعت د خواهشونو د دوی، او ووایه (ای محمده! دوی ته) ایمان مې راوړی دی پر نازل کړی دی الله له (جنسه د سماوي) کتاب څخه، او امر حکم کړی شوی دی ماته چې عدل وکړم په منځ ستاسې کې.

**توضیح:** امام بیضاوي د (لأعدل بینکم) په تفسیر کې لیکي:( لأعدل بینکم في تبلیغ الشرائع والحکومات) تفسیرالبیضاوی (۵/ ۱۲۵)

ژباړه:- ددې لپاره چې زه عدل وکړم ستاسو په منځ کې په رسولو د شرائعو کې او په وخت د فیصلو کې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټول ژوند کې عدل او انصاف په عملي بڼه مسلمانانو ته ښودلی ؤ. په حدیث کې شریف کې رازي:( عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الَّتِي سَرَقَتْ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ الْفَتْحِ، فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُتِيَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَلَّمَهُ فِيهَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ؟ ، فَقَالَ لَهُ أُسَامَةُ: اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ، فَلَمَّا كَانَ الْعَشِيُّ، قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاخْتَطَبَ، فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمِ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمِ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ، وَإِنِّي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا) (أعاذها الله). صحیح مسلم

ترجمه:- د حضرت عائشې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بي بي څخه روایت دی چې بیشکه قریش په غم کې اچولي وو د هغې ښځې حالت چې غلا یې کړی وه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په غزوه فتح کې . دوی په خپلو منځو کې

وویل: څوک به خبری وکړي د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم سره په حق ددې ښـځې کې؟ دوی وویل: په دې خبره بل څوک جرئت نشي کولای؛ مگر اسامه بن زید رضي الله عنه  چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته محبوب شخص دی.
بیا اسامه ابن زید هغه ښـځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوستله او دهغې ښځې په اړه اسامه ابن زید د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبری وکړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم رنگ تغیر وکړ او داسې وویل: آیا ته سفارش کوئ د الله تعالی له حدودو څخه په یو حد کې؟ اسامه رضي الله عنه پیغمبرعلیه السلام ته وویل: زما لپاره ښښنه وغواړه ای دالله رسوله!
کله چې ماسپخین شو رسول الله صلی الله علیه وسلم و دریده او خطبه یي ولوستله: په الله تعالی یې ثنا وویله هغسې چې الله تعالی  یي حقدار دی. بیایي وویل: بیشـکه هلاک شـوي دي هغه خلک چې سـتاسـې نه وړاندې وو هغوی داسـې وو چې کله به هغوی کې غلا وکړه کوم شریف شـخص هغه به یي پریښود او کله به چې هغوی کې غلا وکړه کمزوري شخص په هغه به یي حد جـاري کړ او پـه تحقیق سره، قســم په الله تعالی چې زما نفس د هغه په واک کې دی که چیرې فاطمه بنت محمد غلا کړی وای خامخا غوڅ کړی به مې وای لاس دهغې.
په یو بل روایت کې راځي : عن أبی سَعِيد الخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْسِمُ قِسْـمًا، أَتَاهُ ذُو الخُوَيْصِرَـةِ، وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ، فَقَالَ: يَا رَسُـولَ اللَّهِ اعْدِلْ، فَقَالَ: «وَيْلَكَ، وَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ، قَدْ خِبْتَ وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ». صحيح البخاري (٤/ ٢٠٠)
ژباړه: له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې یو ځل مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملگري ؤ او هغه تقسیمولو (غنیمت) په خلکو باندې. ذو الخویصرہ چې د بني تمیم قبیلې څخه ؤ راغی او وه یې ویل: یارسول الله! عدل او انصاف وکړه. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: هلاک شئ او بل به څوک عدل او انصاف وکړي که چیرې زه عدل او انصاف ونه کړم؟ په تحقیق سره هلاک به شئ او تاواني به شئ که چیرې زه عدل او انصاف ونه کړم. (په ځینو روایتونو کې خِبْتُ وَخَسِرْتُ راغلی دی).
همدا راز الله تعالی ټولو مسـلمانانو ته په هر حالت کې د عدل او انصـاف په رعایتولو امر کړی دی او ورته یې فرمایلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ إِنْ يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيراً فَاللَّهُ أَوْلَى بِهِمَا فَلا تَتَّبِعُوا الْهَوَى أَنْ تَعْدِلُوا وَإِنْ تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيراً)[ النساء:١٣٥]
ترجمه:-ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) اوسئ تاسې تل محکم ولاړ! په انصاف سره شاهدان (خاص) لپاره د الله، اگر که وي (شـاهدي) پر نفسـونو سـتاسـې ( چې زیان مو وي په کې) یا(په) والدینو (مور او پلار سـتاسـې) یا(په) اقاربو (خپلوانو ستاسې). که وي دغه (مشهود علیه او مشهود له) غني (شتمن) یا فقیر (محتاج) نو الله ډېر خیر غوښتونکی دی پر دوی (له تاسې نه)، نو مه کوئ تاسې متابعت د هوا (د نفساني خواهشونو) چې انصاف وکړئ تاسې (او له حقه مه تېرېږئ! یا چې عدول وکړئ له حقه).که واړوئ تاسې (خپلې ژبې) یا څنگ وکړئ تاسې (له شـاهدۍ نه) نو بېشکه الله دی پر هغه شي چې کوئ (یې) تاسې ښه خبردار (نو سم د عمل سره به سمه جزا در کړي).
په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله عامو مسلمانانو ته امر کړی دی چې کله تاسې خبرې کوی او یا شاهدي ورکوی، نو په عدل او انصاف سره خبری کوئ او شاهدي ورکوئ ولو که ستاسې نږدې خپلوان هم وي. الله جل جلاله فرمایلي دي( وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىَ) [الأنعام: ١٥٢]
ترجمه:- او کله چې خبرې کوئ تاسې (په کوم شي کې)نو حق (رښتیا) ووایئ اگر که وي (مقول له یا مقول علیه) خاوند د خپلوۍ (هم).
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي چې عدل او انصـاف به ددوسـت او دښـمن په مقابل کې یو شـان رعایت کړئ او ددښمن دښمني دې تاسې له عدل او انصاف څخه وا نه ړوي. الله تعالی فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ)[ المائدة:٨)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو!) اوسئ تاسې محکم ولاړ(په حق باندې) لپاره د الله (اوسئ!) شاهدان په قسط(عدل او انصاف) سره. او باعث دې نکړي تاسې دښمني د یوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه کړئ تاسې. عدل (نصاف) وکړئ تاسې!، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوی (پرهیزګاری) ته.او وویرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ!) بېشکه چې الله ښه خبر دار دی په هغو اعمالو چې کوئ یې تاسې.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی دی چې هر کله تاسې د خلکو په منځ کې فیصلې کوی ، نو په انصاف سره یې وکړئ(وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ)[ النساء:۵۸]

ترجمه:-او کله چې حکم کوئ تاسې (ای قاضیانو! ای حاکمانو !) په منځ د خلقو کې نو (امر کوي الله چې) حکم وکړئ په انصاف سره!.

همداراز د عدل او انصاف په نبوي احادیثو کې زیات اهمیت بیان شوی دی.

عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :« إنَّ المُقسِطِينَ عِندَ اللهِ على مَنَابِرِ مِن نُورٍ عَن يمينِ الرَّحمنِ عَزَّوَجَلَّ، وَكِلتَا يدَيهِ يمينٌ ؛ الَّذِينَ يعدِلُونَ فِي حُكمِهِم وَأهلِيهِم وَ مَا وَلُوا » . صحيح مسلم (۳/ ۱۴۵۸)

ژباړه:- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عدالت کوونکي به د الله تعالی په وړاندې د نور په منبرونو باندې ناست وي او الله تعالی به یې ښي لوري ته وي او د الله دواړه لاسونه ښشپړ او ځواکمن دي،

دا به هغه کسان وي چې په خپلو فیصلو کې عدل او انصاف کوي او عدل او انصاف کوي د خپل اهل سر او هغه چا سره چې د هغوی سرپرستي ددوی په اختیار کې وي.

عن عبدالله بن أبي أوفي رضي الله عنه قال:قال رسول الله:«إنَّ اللهَ مَعَ القَاضِي مَالَم يجُر،فَإذا جَارَ تَخَلَّي عَنهُ وَلَزِمَهُ الشَّيطَانُ » سنن الترمذي (۳/ ۶۱۰)

ژباړه:- له عبدالله بن ابو اوفی رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقینا الله تعالی د قاضي سره وي (یعنی مرسته ور سره کوي) ، ترڅو چې ظلم ونه کړي او کله چې ظلم وکړي، نو الله ورځنې بیلیږي او شیطان ورسره ملګری کیږي .د ابن ماجه په روایت کې راځي: « فَإِذَا جَارَ وَكَلَهُ إِلَى نَفْسِهِ» سنن ابن ماجه (۲/ ۷۷۵)

ژباړه:- کله چې ظلم وکړي ، نو (الله تعالی) قاضي خپل ځان ته وسپاري. یعنې خپله مرسته او همکاري ورڅخه سلب کړي.

## د عدل او انصاف د پلي کولو ځینې بیلګې او صورتونه:

په اسلامي شریعت کې عدل او انصاف له هر چا او په هر وخت کې مطلوب دی، که هغه حاکم دی، که هغه رعیت دی، که هغه مبلغ دی، که هغه تاجر دی، اوکه هغه شاهد دی، او که هغه خبر نګار دی اوکه هغه عالم او مجتهد دی.

په اسلامي شریعت کې عدل او انصاف له موافق او مخالف دواړو، په صلحه او جنګ دواړو حالتونو کې مطلوب دی.

په اسلامي شریعت کې عدل او انصاف د خاوند او ښځې ترمنځ،د پلار او اولاد ټولو څخه مطلوب دی،چې ځینې بیلګې یې په لاندې توګه دي:

**۱- د امام او حاکم عدل او انصاف:**

عدل او انصاف رعایتول په هرچا باندې لازم دي ؛ خو د امام، حاکم، قاضي، والي او ذمامدار عدل او انصاف زیات اهمیت لري.

پر امام او حاکم باندې لازم دي چې د خپل رعیت په منځ کې عدل او انصاف رعایت کړي او د عدل او انصاف خاوندان خپل مشاورین او د دولت ارکان وګرځوي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رح ليكلي دي:( وَجَمِيعُ هَذِهِ الْوِلَايَاتِ هِيَ فِي الْأَصْلِ وِلَايَةٌ شَرْعِيَّةٌ وَمَنَاصِبُ دِينِيَّةٌ فَأَيُّ مَنْ عَدَلَ فِي وِلَايَةٍ مِنْ هَذِهِ الْوِلَايَاتِ فَسَاسَهَا بِعِلْمِ وَعَدْلٍ وَأَطَاعَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ بِحَسَبِ الْإِمْكَانِ فَهُوَ مِنْ الْأَبْرَارِ الصَّالِحِينَ وَأَيُّ مَنْ ظَلَمَ وَعَمِلَ فِيهَا بِجَهْلِ فَهُوَ مِنْ الْفُجَّارِ الظَّالِمِينَ) رسالة في الحسبة (ص: ٥)

ژباړه:- او دا ټولې وظيفې او دندې (لکه ولاية القضاء، ولاية الحرب، ولاية الحسبة او ولاية المال) دا په اصل کې شرعي دندې دي او ديني منصبونه دي چاچې عدل وکړ په دغو دندو کې او په علم او عدل سره يې انجام کړل او دالله تعالی اطاعت يې وکړ او د هغه د رسول اطاعت يې وکړ د امکان ترحده پورې ؛ نو دغه والي د نيکانو اوصالحانو له جملې څخه دی او هرچاچې ظلم وکړ او په دغو دندو کې يې عمل په جهل سره وکړ؛ نودا کس د فاجرانو او ظالمانو څخه دی.

په يو بل ځای کې ليکي: (يَجِبُ عَلَى كُلِّ وَلِيِّ أَمْرٍ أَنْ يَسْتَعِينَ بِأَهْلِ الصِّدْقِ وَالْعَدْلِ). رسالة في الحسبة (ص: ٤)

ژباړه:- واجب دي په هر ولي الأمر باندې چې مرسته وغواړي د رښتينو خلکو او د عدل دڅښتنانو څخه.

همدا وجه ده چې عادل پاچا او امام به د اخرت په ورځ د الله تعالی د عرش د سيوري لاندې وي.

**٢- په فيصله او حکم کې عدل او انصاف کول:**

هرڅوک چې د خلکو ترمنځ فيصله کوي که هغه امام وي، يا حاکم او والي وي او يا قاضي وي ، يا د خلکو په منځ کې صلحه کوونکی وي يا بل څوک دولتي ذمامدار وي؛ بايد عدل او انصاف رعايت کړي او له ظلم څخه ځان وساتي او د خلکو په منځ کې د خپلولۍ، انډيوالۍ، پيژندگلوۍ ، قوميت ، نژاد او رنگ په اساس فيصله ونه کړي.

الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ) [النساء: ٥٨] .

ترجمه:- او کله چې حکم کوئ تاسې (ای قاضيانو! ای حاکمانو !) په منځ د خلقو کې نو (امر کوي الله چې) حکم وکړئ په انصاف سره!.

همداراز د عدل او انصاف په نبوي احاديثو کې زيات اهميت بيان شوی دی.

همداراز په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « الْقُضَاةُ ثَلاَثَةٌ: وَاحِدٌ فِى الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِى النَّارِ فَأَمَّا الَّذِى فِى الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِى الْحُكْمِ فَهُوَ فِى النَّارِ وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِى النَّارِ ». سنن أبى داود-ن (٣/ ٣٢٤)

ژباړه:- د ابو بريده له ځوی څخه روايت دی ، هغه له خپل پلار بريدة رضي الله عنه څخه روايت کوي او بريده رضي الله عنه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: قاضيان درې قسمه دي. يو به په جنت کې وي او دوه به په جهنم کې وي. هغه قاضي چې په جنت کې به وي هغه سړی دی چې حق وپيژني او په حق په فيصله وکړي،بل هغه سړی دی چې حق وپيژني او په فيصله کې ظلم وکړي ؛ نو دغه کس به په اور د جهنم کې وي . بل هغه سړی دی چې د خلکو فيصلې په ناپوهۍ او جهل سره کوي ؛ نو دا به هم په اور د جهنم کې وي.

په فيصله کولو کې عدل او انصاف په دې سره تحقق مومي چې د دواړو خصمَينو ترمنځ مساوات رعايت شي، د غضب پر وخت فيصله ونشي، او ددواړو خصمَينو دلائل واوريدل شي.

**٣- په گواهۍ او شهادت ورکولو کې عدل او انصاف رعايتول:**

الله تعالی خپلو بندگانو ته امر کړی دی چې پرته له حق څخه بله خبره نکوي او نه دې وايي مگر رښتيا اگر که د اهل په باره کې وي، د اولادونو په باره کې يا دمور او پلار په باره کې وي او يا د نورو خپلوانو په باره کې وي. الله تعالی فرمايلي دی: (وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ) [الأنعام: ١٥٢] .

په يو بل مبارک اَيت کې فرمايي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ)[النساء: ١٣٥] .

**۴- په پیمانه او ترازوکې او نورو ټولو معاملاتو کې عدل او انصاف رعايتول:**

ډيرى خلک په مسجد پنځه وخته لمونځ په جماعت سره اداء کوي او په مسنونه اذکارو ويلو باندې به پابندي کوي ؛ ظاهري مَظهر به يې هم د شريعت موافق وي؛ خو په کاروبار او معاملاتو کې به عدل او انصاف نکوي ؛ بلکې په پيمانه او تول کې به ظلم کوي. همدار راز خرڅلاو کې به قيمت فروشي کوي، قسمونه به خوري، احتکار به کوي ، د خلکو د فقر څخه به ناوړه استفاده کوي.
الله تعالی فرمايې چې تاسو عدل کوئ او پردي مالونه مه خورئ.(وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ) [الأنعام: ١٥٢]
ترجمه:- او پوره کوئ تاسې پيمانه او تول په عدل (انصاف) سره
په يو بل اَيت کې فرمايي:(وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ * أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ * لِيَوْمٍ عَظِيمٍ * يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ).[المطففين: ١ -٦]
ترجمه:- افسوس هلاکت خرابي يا کنده د دوزخ ده کم کوونکيو لره (په پيمانه او تول کې) هغه (کسان) هر کله چې ځان ته اخلي پيمانه نو پوره اخلي . او کله چې پيمانه ورکوي يا يې تلي هغوی ته؛ نو کمی کوي (پوره يې نه ورکوي). آيا يقين نه کوي (دېر اخېستونکي لږ ورکوونکي دغه) چې بېشکه دوی را پورته به کړل شي لپاره (د حساب) د لويې ورځې (د قيامت). هغه ورځ چې وبه درېږي خلق لپاره (د احکام) د رب د ټولو مخلوقاتو.

**۵- د دښمنانو سره عدل او انصاف کول:**

په اسلامي شريعت کې ددښمن سره هم عدل او انصاف کول لازم دي. په کافر باندې به په درواغو شاهدي نه ورکوئ، په کافر باندې د اسارت په حالت کې ظلم نکوئ او داسې ډير مثالونه شته چې ددښمن په مقابل کې ظلم کول جواز نلري.الله تعالی فرمايلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) [المائدة: ٨] .
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو!) اوسئ تاسې محکم ولاړ(په حق باندې) لپاره د الله (اوسئ!) شاهدان په قسط(عدل او انصاف) سره. او باعث دې نکړي تاسې دښمني د يوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه کړئ تاسې. عدل (انصاف) وکړئ تاسې!، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوی (پرهيزگاری) ته.او وويرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ!) بېشکه چې الله ښه خبر دار دی په هغو اعمالو چې کوئ يې تاسې.

**٦- د خپلې ښځې سره عدل او انصاف کول:**

د خپلې ښځې سره په عدل او انصاف ژوند تيرول او په نفقه ، اوسيدوځای کې او نورو شخصي حالاتو کې ورسره د عدل څخه کار اخيستل او که چيرې له يوې څخه زياتې وي د ټولو سره د عدل او انصاف ژوند تيرول او هرې يوې ته خپل حق ورکول لازم دي.
الله تعالی فرمايلي دي: (وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا). [النساء: ٣] .
ترجمه:- او که وويرېږئ تاسې چې به و نه کړئ شئ عدل او انصاف په (حق د) يتيمانو کې نو په نکاح سره واخلئ تاسې (نورې) هغه ښځې چې خوښې (حلالې) وي تاسو ته له ښځو؛دوه دوه، او درې درې، او څلور څلور.
البته د زړه طبعي محبت د انسان په توان کې نه دی؛ خو په نورو حقوقو کې به د ټولو يو شان خيال ساتي.الله تعالی فرمايلي دي:( وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا). [النساء: ١٢٩] .

**ترجمه:- او له سره به طاقت رانه وړئ تاسې(ای د ډېرو ښځو مېړونو!) د دې چې عدل و کړئ (او برابروالی وساتئ په هر شي کې) په مابین د ښځو خپلو کې اگر که ډېر حرص وکړئ تاسې(عدل ته) ، نو مخ مه گرزوئ تاسې (له یوې ښځې) په کامل مخ گرزولو سره؛ چې پس پرېږدئ دا (ښـځه) په شـان د ځوړندې شـوې؛ (چې نه یې طلاقوئ، او نه د مېړه توب معامله ورسره کوئ).او که اصلاح وکړئ تاسې(له خپلو ښځو سره) او پرهیز وکړئ(له ظلمه) نو بېشکه چې الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطایاتو) ډېر رحم کوونکی.**

**۷- د اولادونو ترمنځ عدل او انصاف رعایتول:**

**په اسلامي شریعت کې د هر هغه خوی، خصلت او عمل مخه نیول شوی ده چې د بغض، کینې او حسد باعث گرځي، ځکه خو الله تعالی د اولادونو ترمنځ عدل او انصاف لازم او واجب گڼلی.**

**د اولادونو ترمنځ عدل او انصــاف لازم دی لکه په هدیه ورکولو کې، په عطیه ورکولو کې، په وقف کې آن تر دې پورې چې ابراهیم نخعي رحمه الله فرمایي: صحابه کرامو او سلفو به په چپه اخیستلو کې د اولادونو ترمنځ عدل او انصاف مستحب گڼلو.**

**په حدیث شریف کې راځي: عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِـــيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ لَا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً فَأَمَرَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هَذَا قَالَ لَا قَالَ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ.** صحیح البخاري ت (٦/ ٤٦٧)

**ژباړه:- د نعمان بن بشـیر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وویل په داسـې حال کې چې په ممبر ناسـت ؤ، ماته پلار یوه تحفه راکړه، (زما مور)عمره بنت رواحه رضي الله عنها (زما پلار ته) وویل: زه تر هغې نه راضي کېږم ترڅو چې رسـول الله صلی الله علیه وسـلم په دې باندې شاهد ونه گرځوی.(زما پلار) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی اوورته یې وویل: ما خپل زوی ته چې د عمره بنت رواحه څخه دی یوه تحفه ورکړه. نو عمره بنت رواحه ماته امر وکړ چې زه تا پر دې کار باندې شاهد وگرځوم. (نبي علیه السـلام ورتـه ) وویـل: آیـا تا ورکړي دي ټولو اولادونو ته په شـان د هغه څه چې ده ته دې ورکړه؟ (زما پلار) وویل: نه! نبي علیه السلام وفرمایل: پس د الله تعالی څخه وویرېږئ او عدل وکړئ په منځ د اولادونو خپلو کې.**

**عدل ډېرې فایدې لري چې دهغو له جملې څخه د محبت خوریدل، د خلکو په نفسـونو کې د ډاډ او اطمینان حاصـلیدل او په ټولنه کې امن او امان ټینگول دي او اسـلامي تاریخ په دې هکله له ډېرو عالي بیلگو څخه ډک دی، نو په هرمسـلمان لازم دي چې په هرځای او هره زمانه کې باید د عدل او انصاف په نیکو صـفتونو ځان سـینگار کړي او له ظلم او جفا څخه ډډه وکړي او په دې باره کې په سلف صالحین پسې اقتداء وکړي .**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**